# د باجوړ د غمیزې په اړه څېړنی او د خوارج زیاتیدونکي ویره

په باجوړ کې د تي تي پي او داعش خراسان په ګډه د ځانمرګي برید وروستو د تي تي پي خوارج خپله دودیزه منافقت څرګندوي او د دروغو غندنې بیانونه جاري کوي چې وروستۍ بېلګه یې د بدنام ترهګر عظمت الله محسود او مولوي فقیر ویډیو بیان دی۔

د ځانمرګي برید په اړه څېړنې ځینې مهمې موندنې په ګوته کړې چې په لاندې ډول دي:

- د ٹی ٹی پی ترهګریز مشر مولوي فقیر، له افغانستانه د امریکایي ځواکونو له وتلو وروسته له زندانه وتښتېد چې له داعش خراسان سره له اوږدې مودې راهیسې اړیکې لري۔
- د لومړنیو پلټنو له مخې د باجوړ پېښه هم د ترهګرو مولوي فقیر او داعش خراسان د خپل منځي ګډون نښه ده۔
- مولانا ضیاءالله جان او د جے یو آئی (ف) نور همکاران چا او ولې شهیدان کړل، ټول باجوړ خبر دی۔
- په دې وروستیو کې د باجوړ (کټ کوټ) څخه نیول شوي د داعش خراسان دوه ترهګر هم په دې ځانمرګي برید کې د ٹی ٹی پی ملاتړ ته اشاره وکړه۔
- په دغه ویډیو پیغام کې د داعش لخوا د باجوړ په برید کې د لاس لرلو د اعتراف باوجود د هغې غندنه نه کول د تي تي پي او داعش د لاس وهنې ښکاره ثبوت دی۔
- د خوارج له خوا د ځانمرګي برید غندنه په اصل کې یوه هڅه ده چې د چند په نوم د بهتی په راتلونکې کې له ممکنه ستونزو څخه مخنیوی وکړي ځکه چې هغوی اندېښمن دي چې اوس به قومونه د دوی پر ضد راپورته شي۔

د افغانستان موقت حکومت باید په دې پوه شي چې د دوی کنټرول په ننګرهار او کنړ کې محدود دی چې هلته د تحریک طالبان پاکستان د مرکزونو شتون او له داعش سره د همکارۍ شواهد شته۔ د دغو خوارجو له منځه وړل نه یوازې د پاکستان په ګټه، بلکې د افغانستان او سیمې په ګټه هم دي۔

**نور انکشافات وروسته**